بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** بودجوي محاسبه

**څانګه:** محاسبه

**ترتیب او راټولوونکی:** شیما بورا

**ژباړونکی:** قاری محمد حلیم

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزايي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- عبدالجمیل ممتاز
- فرشته


**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول:** محمد جان علیرضايي

**ګرافیک او ډیزاین:** علی مومنی

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.d[illegible]tvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@d[illegible]tvet.gov.af

**ISBN:** 978[illegible]93[illegible]00[illegible]67


Ketabton.com


د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلي دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همدارز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، څکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یوازې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک



| پاڼې | سرلیکونه | څپرکي |
|---|---|---|
| ۱ | بودجوي اصلاحات | لومړی |
| ۷ | دبودجوېمفهوم او ماهیت | دويم |
| ۲۳ | د مالي معملاتو اسناد | درېيم |
| ۳۳ | د بودجوي فورمو په هکله معلومات | څلورم |
| ۵۳ | په افغانستان کې دبودجې جوړونې طرز | پنځم |
| ۷۲ | | سرچينې او اخيستنې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سریزه**

بودیجه جوړونه د یوې برنامې په اساس چې یو ریفورم لرونکې وه چې د ملي انکشاف د ستراتیژیکي پلان ګذارۍ په برخه کې تصمیم نیوونکې وي چې د مؤقتو ستراتیژي سکتورونو، د حکومت دارۍ امنیت، د قانون حاکمیت، زېربناوې او طبیعي منابع، معارف، صحت، زراعت اود کلیو پراختیا، ټولنیز مصؤنیت، اقتصادي اداره او د خصوصي سکتور د انکشاف په اساس وي.

بودیجه د حکومت دخصوصي مالي یوه طرحه ده او بودیجه د دولت د مالي کنترول یوه مهمه او عمده وسیله ګڼل کېدای شي، سربېره پر دې یوه صلاحیت پاڼه هم ده چې له امله یې ادارات د هغوی د پالیسیو او پروګرامونو په مخته بوولو کې پیاوړي کوي. د بودیجې کره موخې د لګښتونو کنترول او حساب ورکونه جوړوي. دېته په پام سره چې ددولت بودجه د هېوادد مالي اسنادو له خورا مهمو اسنادو څخه یو ډول اسناد دي باید د بهرني پلان په نامعقول ډول د مقرراتو خلاف، د دولت د مصوباتو، قوانینو او مقرراتو خلاف او له بدو ګټه اخیستو څخه مخنیوی شوی وي یوې حسابي لارې چارې ته چې د اقتصادي تولیدي فعالیتونو د اداري سیستم له مهمو حلقاتو څخه یوه حلقه ده، چې په دې ځانګه کې محاسبه د یوه مثمر فن په حیث په پلان جوړونه، اقتصادي مسایلو، پانګونه او د یوه هېواد د اقتصادي ودې لپاره ورڅخه کار اخیستل کېږي.

د حکومت له لومړیتوبونو سره سم او د افغانستان د ملي انکشاف مؤقته ستراتیژي او وروستۍ لارښوونه د مالیې وزارت او د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژۍ د نظارت د کمېټې له لوري، د امنیت زېربنا معارف، زراعت، د کلیو پرمختیا، عامه روغتیا له هغو ځانګو څخه دي چې د حکومت لپاره د لومړیتوبونو څخه ګڼل کېږي. د ملګرو ملتونو د پنځلس کلنۍ انکشاف موخې دا ښیي چې افغانستان د مصارفو او صحت په برخو کې د پام وړ پرمختګ ته اړتیا لري تر څو وکولای شي تر ۱۳۹۹ کال پورې دغو پنځلس کلني انکشافي موخو ته ورسېږي. ستراتیژي معیارونو ته د رسېدنې په موخه د افغانستان ملي انکشاف باید ډېرې مالي سرچینې اختصاص کړل شویو سکتورونو ته ورکړل شي. په دې سکتور کې باید د بودیجوي مودې تر منځ تخصصات په تدریج سره زیاتوالی ومومي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ملي موخو ته د رسېدنې په خاطر نوي پروګرامونه او تر څو چې، د بیا رغاونې د هېواد دپراختیا او داسې نور چې د خپلو کړنو په سر کې ځای ورکړی له هغې جملې څخه مؤثر اقدامات د درسي کتابونو د ښوونې او روزنې په عرصه کې دي د درسي کتابونو نشتوالي او کمښت ستونزه ده چې ما د دغه درسي کتاب د بودیجوي محاسبې په نامه چې یو اختصاصي کتاب د اداري او حسابدارۍ په انستیتیوت کې تدریس کېږي په پنځو څپرکیو کې تألیف کړیدی ترڅو یو اغیزمن اقدام وي د پالیسۍ په روښانتیا کې او په علمي او فرهنګي موخو کې او هم د محصلینو اړتیا وو ته ځواب ویونکی وي.

بودیجوي واحدونه په ۱۳۸۸ کال کې خپله بودجه په دوو برخو چې لومړۍ برخه یې عنعنوي بودجه او دویمه برخه یې د برنامې په اساس تر تیب شوې بودجه ده. نوموړي وزارت په ۱۳۸۸ کال کې د ګرانو شاګردانو د لا ډېرو معلوماتو په خاطر د کتاب په وروستۍ برخه کې یادونه کړېده.

د یادونې وړده چې ددې کتاب په لومړي څپرکي کې د بودجې مهم اصطلاحات تر مطالعې لاندې نیول شویدي، چې شاګردان د راتلونکو مطالبو لپاره اماده کوي.

په دویم څپرکي کې د بودجې تاریخي تکامل او د بودجې د پړاوونو پروسه تر مطالعې لاندې نیول کېږي چې ګران شاګردان د افغانستان د ملي پرمختیا له ستراتیژیکو موخو او د برنامې په اساس د بودجې له جوړونې سره آشنایي پیدا کوي.

په دریم څپرکي د دې کتاب کې د مالي معاملاتو اسناد په بودجوي واحدونو کې ځای په ځای شویدي چې شاګردان به ښایي مالي فورمې او د مالي فورمو د ډکولو طرز زده کړي.

څلورم څپرکی د بودجوي فورمو کتاب په څنګ کې لري چې د عوایدو او مصارفو د استفادې طرز په بودجوي واحدونو کې چې مطالعه یې د شاګردانو لپاره حتمي ده.

پنځم څپرکی په افغانستان کې د بودجې جوړونې د طرز او طریقې لپاره ځانګړی شویدی چې محصلین د بودجې جوړونې د فهم لپاره چې خورا زیات مهم دی اماده کوي. د دې کتاب په لیکنه کې ډېره پاملرنه دې مسئلې ته شوېده ترڅو له یوه لوري د کتاب مطالب او نور محتویات په روانو او ساده جملاتو ولیکل شي او له بل لوري د امکان تر حده پورې د بهرنیو کلماتو له استعمال څخه مخنیوی وشي؛ ترڅو د هغې په واسطه د کتاب استفاده کوونکو پر تعداد زیاتوالی راشي. هیله ده ترڅو د همدې اثر په واسطه مو د علم د پراختیا په لاره کې یو ناچیزه خدمت ترسره کړی وي.

شیما بورا

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ټولیزه موخه:**

د دې کتاب په لوستلو سره د بودیجې په مفاهیمو، د مالې د معاملاتو په اسنادو او د پانګونې د فورمو په هکله به لازم معلومات ترلاسه کړئ. او په افغانستان کې به د پانګې جوړونې لارې سره به بلد شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## بودجوي اصطلاحات

**ولیزه موخه:**
د بودیجې له مهمو اصطلاحاتو سره آشنایي

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې له محصلینو څخه تمه کېږي ترڅو:

په بودجوي تخصیصاتو باندې پوه شی.

د مالي او بودجوي کال تر منځ توپیر درک کړای شی.

د وجوه خاص، وجوه توحیدي، وجوه اختیاري او وجوه غیر اختیاري تر منځ توپیر وکولای شي.

د نمایندګۍ صلاحیتونه، دویم او دریم واحد درک کړای شی.

**۱- د محاسبې تعریف:** محاسبه د ثبت له فن، د یوې ادارې د مالي معاملاتو تصنیف او توحید، د مالي راپورونو جوړونه او له مالي تحلیل او نتیجه ګیري څخه عبارت ده.

**۲- بودیجوي کال:** د مالي کال ما بعد کال د بودیجوي کال په نامه نومول کېږي، مثلا روان ۱۳۸۸ کال مابعد مالي کال یانې د ۱۳۸۷ کال د بودجوي کال په نامه یادېږي.

**۳- مالي کال:** هغه کال ته ویل کېږي چې، د هماغه کال په پیل سره پیل او په ختمېدو یې خاتمه مومي، یانې د حمل له لومړۍ څخه د حوت د میاشتې تر پایه پورې.

**۴- تخصیص:** د خاص کړل شوې په مانا ده او عبارت له هغه مقدار پیسو څخه دی چې د یوه مشخص مقصد لپاره د مالیې وزارت له لوري د بودیجوي فورمو په اساس ربع وار لېږل کېږي.

**۵- د تخصیصاتو فورمه:** عبارت له رسمي فورم څخه ده چې د مالیې وزارت له لوري صادر او دولتي ادارو ته د بودیجې د لګښت اجازه منځته راځي اخیستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۶- فورمه:** عبارت له هغه جدول څخه ده چې، د معینوعمودي او افقي ستنو درلودونکې ده او د یوې ټاکلې موضوع صورت حساب وړاندې کوي.

**۷- د وجوه اصل تخصیص:** بودجه باید د یوې مشخصې مالي دورې لپاره بودجوي واحدونو ته تخصیص ورکړل شی، چې په ربع تقسیمیږي.

**۸- ربع یا قسط:** یو کال په څلورو حصو تقسیمیږي، د یو مالي کال د څلورو حصو په مانا ده چې هره برخه یې دری میاشتې ده، هر دری میاشتې یوه ربع ده چې په ترتیب لومړۍ، دویمه، دریمه او څلورمه.

**۹- وجوه:** له یوه حسابي واحد څخه عبارت ده چې له پیسو یا مالي سرچینو څخه جوړه ده او ور څخه ګټه اخیستل کیږي.

**۱۰- توحیدي وجوه:** عبارت له ټولو هغو وجوهو څخه ده چې د دولت په واسطه تر لاسه کیږي.

**۱۱- ځانګړي وجوه:** عبارت له هغې وجوه څخه ده چې دولت ته په بلا عوضه توګه سره ورکړل شوې ده او لګښت یې د شرائیطو تابع په مالي قوانینو او نورو ټولو قوانینو کې د یوه ټاکلي لګښت په موخه واوسي.

**۱۲- اختیاري وجوه:** عبارت له هغې وجوه څخه ده چې دافغانستان د دولت په اختیار کې وي د هغه په تخصیص کې اختیار لري.

**۱۳- غیر اختیاري وجوه:** عبارت له هغو وجوهو څخه دي چې د دولت د پانګو حساب لره شاملې وي، اما د افغانستان دولت په اختیاري ډول له هغه څخه کار نه شي اخستی، یعنې له دې وجوهو څخه د تخصیص اختیار په مرسته کوونکو نهادونو پورې اړه لري.

**۱۴- د توزیع تخصصیات:** د کلني اصل منظوري له تقسیم څخه له څلور حصو تخصیصاتو څخه عبارت ده چې د لګښت صلاحیت یې د مالیې وزارت له لوري یوې نمایندګۍ ته ورکول کیږي.

**۱۵- حواله شوي تخصیصات:** د تخصیصاتو له هغې حصې څخه عبارت ده چې د مالیې وزارت له لوري د لومړنۍ واحد لپاره او له لومړني واحد څخه دویمي واحد ته تسلیمیږي.

**۱۶- نه حواله شوي تخصیصات:** د کلني اصل منظوري له پاتې شویو پیسو څخه عبارت ده چې تر اوسه پورې یې حواله نه ده مهیا شوې.

**۱۷-تزئید:** د مالي کال د منظورۍ په اصل باندې د زیاتولو په مانا ده د لګښتونو د هغې برخې ضرورت چې د تزئید ایجاب کوي اړونده مبلغ سنجش کیږي او د تزئید په نامه ثبتیږي.

**۱۸- تنقیص:** د کمولو مانا ورکوي چې د مالي کال دمنظورۍ اصل چې منظور شوی مبلغ اضافه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لګول شوي وي نو باید اضافه مبلغ له هغه څخه لګښت د بودجوي کال لپاره په تنقیصي ډول ثبت او معامله شی.

**۱۹- تعدیلات:** د تعادل په مانادە او د بودیجې په مسئله کې چې هرکله یو وزارت په یوه مورد کې کافي شتمني ولري اما په یوه بل مورد کې بیا کافي شتمني ونه لري نو د تعدیل د فورمې په روئیت سره د مقنعو دلایلو په وړاندې کولو سره د مالیې وزارت ته وړاندیږ کوي او د هغه بل څه په اړه چې شتمني یې کمه ده انتقالوي.

**۲۰- له تعدیل څخه وروسته موخه:** عبارت له هغه رقم څخه ده چې د کلني تنقیص او تزئید له پایلې څخه وروسته په لاس راځي.

**۲۱- عادي مدارک:** عبارت د هغې سرچینې له اندازې څخه ده چې له هغه څخه عاید په لاس راځي او له هغه څخه لګښت تر سره کیږي.

**۲۲- پراختیایي مدارک:** عبارت له هغو لګښتونو څخه دي چې د پراختیایي لګښتونو لپاره ټمویلیږي؛ لکه: د مکاتبو، سړکونو او نورو داسې شیانو جوړونه.

**۲۳- د لګښتونو تصنیف:** د دولت د لګښتونو له طبقه بندۍ څخه عبارت ده دغه تصنیف د عددي علایمو د (کودونو) په واسطه اود هغو تشریحي عناوینو په واسطه چې د دولت له عمومي پانګو څخه ټمویلیږي.

**۲۴- د عوایدو تصنیف:** د دولت د عوایدو له طبقه بندۍ څخه عبارت ده چې د عددي علایمو (کودونو) په واسطه د دولت عمومي پانګې ته تحویلیږي.

**۲۵- نمایندګۍ یا لومړنۍ اداري واحد:** له یوه مستقل واحد څخه عبارت ده او د مستقلې بودیجې درلودونکې ده لکه د معارف او بهرنیو چارو وزارت او نور...

**۲۶- دویم اداري واحد:** هغه اداري چې تر لومړني واحد لاندې وي او د مالیې وزارت ته په مستقیمه توګه سره د بودیجې لیږلو صلاحیت ونه لري لکه د محاسباتو ریاست، د برېښنا مؤسسې ریاست.

**۲۷- دریم واحد:** تر دویم واحد لاندې له شعباتو څخه د یوې شعبې او یا مدیریت څخه عبارت ده لکه د اداري ریاست د خدماتو مدیریت چې د وزارت خانې یو جز دی اما تر دویم واحد لاندې شتون لري.

**۲۸- باب:** د دروازې په مانا ده او د بودیجې له لحاظه مشخصه ده چې څو څپرکي یې مربوطیږي.

**۲۹- فصل یا څپرکی:** د بېلېدلو په مانا ده او د بودیجې له نظره هغه ده چې څو مادې د هغه اړوندیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳۰- د فوق العاده یا احتیاط وجوه:** عبارت له یوې اندازې پیسو څخه ده چې د احتیاط یا فوق العاده په باب کې شتون لري او د لګښت صلاحیت او واک یې د جمهوري ریاست مقام لري.

**۳۱- بودجوي صلاحیت:** له هغه صلاحیت څخه عبارت دی چې د کلنۍ بودیجې له طرز العمل سره سم د تخصصیاتو د فورم د صدور لپاره د مالیې وزارت ته ورکول کېږي.

**۳۲- دکلنۍ بودیجې طرز العمل:** عبارت له هغه سند څخه دی چې ټول بودجوي صلاحیتونه او د دولت د لګښتونو سرچینې د مالي کال لپاره په هغه کې درج وي.

**۳۳- د بودیجې کمیټه:** د بر رسۍ له کمیټې او د مالي کال په بودیجې باندې له تجدید نظر څخه عبارت ده چې د مالیې وزیر تر اثر لاندې او بهرنیو چارو وزارت او اقتصاد وزارت د وزیرانو په ګډون سره او د یوه بل کس په واسطې سره چې د جمهور ریس له لوري ټاکل کېږي جوړیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لومړي څپرکي لنډیز**

بودجوي کال مابعد مالي کال ته ویل کېږي او مالي کال د کال په پیل سره پیل او دکال په ختمېدو سره خاتمه مومي.

محاسبه د مالي معاملاتو د توحید دتصنیف د ثبت له فن څخه عبارت ده او تخصیص د پیسو له هغې اندازې څخه عبارت دی چې د یوه مشخص مقصد لپاره د بودجوي فورمو په بنسټ ربع وار لېږل کېږي.

د تخصیصاتو فورم او رسمي فورم چې د بودیجې د لګښت اجازه اخیستل کېږي توحیدي وجوه له هغو وجوهو څخه عبارت ده چې د دولت په واسطه تر لاسه کېږي.

خاص وجوه عبارت له هغه وجوه څخه دی چې په بلاعوضه توګه سره دولت ته ورکول کېږي.

د عوایدو تصنیف عبارت دی د عوایدو له طبقه بندۍ څخه د (کودونو) په واسطه د لګښتونو تصنیف د نمایندګۍ د کودونو په واسطه د لګښتونو له طبقه بندۍ څخه عبارت ده چې له وزارت خانو دویم واحد لکه ریاستونه چې د یوې نمایندګۍ تر اثر لاندې وي او دریم واحد عبارت له هغو مدیریتونو څخه دی چې د یوه ریاست تر اثر لاندې وي.

پلان د راتلونکو موخو له طرحې څخه عبارت دی یعنې په یوه ټاکلي وخت کې د موخو تر لاسه کول.

د کلنۍ بودیجې طرزالعمل ټول بودجوي صلاحیتونه او د دولت د لګښتونو سرچینې په مالي کال کې د بودیجې کمیټه د مالي کال د بودیجې د تجدید نظر د کمیټې له بر رسۍ څخه عبارت ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لومړي څپرکي پوښتنې**

۱- د مالي او بودجوي کال تر منځ څه توپير دی؟

۲- د کلنۍ بوديجې د طرزالعمل په اړه خپل مالومات بيان کړئ؟

۳- عادي او پراختيايي مدارک څرگند کړئ؟

۴- د اختياري او غير اختياري وجوهو تر منځ توپير څه شی دي؟

۵- د عوايدو تصنيف يعنې څه؟

۶- د تخصيصاتو فورم د کوم ارگان له لوري صادرېږي؟

۷- د وجوه د تخصيص اصل څرنگه اجرا کېږي

۸- په بودجه کې تعديلات څه شی دي؟

۹- حواله شوي او نه حواله شوي تخصيصات بيان کړئ؟

۱۰- پلان تعريف کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دويم څپرکی

# د بوديجې مفهوم او ماهيت

**ښوليزه موخه:**
د بوديجې د تاريخي تکامل درک او فهم او د بوديجې د پړاونو پروسه

**د زده کړې موخې:** محصلين بايد د دې څپرکي په پای کې راتلونکي مالومات خپل کړي:

— د بېلا بېلو نظرونو له لارې بودجه تعريف کړي.
— د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتيژي موخو په هکله مالومات تر لاسه کړای شي.
— د تخصيص او مراحلو د اجرايوي تعامل په اړه يې بايد آشنايي پيدا کړې وي.
— د بوديجې د ترتيب د اصلاحاتو د پروسې په اړه مالومات بايد تر لاسه کړای شي.
— د بوديجې په کنترول بايد پوه وي.

**د بوديجې مفهوم او ماهيت**

**الف- د بوديجې مفهوم او پيدايښت:** د بوديجې کليمه په لاتيني ژبه کې د بولګا په نامه په فرانسوي ژبه کې د (Boudgette) او په انګلسي ژبه کې بيا د(Budget) په نامه معمول ده چې د چرمي بکس مانا افاده کوي چې نغدې پيسې په هغه کې اېښودل کېږي.
په فرانسه کې د بوديجې اصطلاح د لومړۍ ځل لپاره په ۱۸۱۴ کال په رسمي بڼه د دولت د لګښتونو د عوايدو په اړه تر استفادې لاندې ونيول شوه. اما بودجه په خپل نوي شکل د نولسمې پېړۍ په لړ کې منځ ته راغله.
د بوديجې په اړه ډېر تعريفونه ورکړل شوي دي چې له هغې جملې څخه يو څه کره او جامع تعريفونه درته بيانوو :

۱- **فرنيس نويمارک بوديجه داسې تعريفوي:** بودجه عبارت له يوې منظمې طرحې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده او د پلان شویو لګښتونو د یوه بل په وړاندې قرار ورکول او د اټکل شویو عوایدو تخمینات د دې لګښت د تکافو لپاره په راتلونکې یوه ټاکلې دوره کې ده چې د پرنسیپ له نظره د تطبیق وړ مکلفیت درلودنکي دي.

۲- د کلاسیکانو د تعریف له نقطې نظره بودجه له یوه رسمي سند څخه عبارت ده چې په هغه کې د دولت عواید او لګښت د یوې ټاکلې مودې لپاره او معمولاً د یوه کار لپاره وړاندوینه کېږي او تصویبېږي.

۳- د افغانستان د بودیجې مقررې په ۱۳۵۳ کال کې بودجه په لاندې ډول تعریف کړېده: بودجه له یوه قانوني سند څخه عبارت ده چې په هغه کې د دولت ټول عواید او لګښت د یوې ټاکلې مودې لپاره معمولا د یوه راتلونکي کال لپاره پېش بیني کېږي او په اقتصادي، اجتماعي، دفاعي، کلتوري او سیاسي حالاتو کې د انکشاف او د ټولو فعالیتونو انعکاس ورکوونکي دي.

بودجه په یوه خورا بشپړه بڼه داسې تعریفوو:

بودجه له یوې منظمې طرحې او د پلان شویو لګښتونو د یوبل په وړاندې کولو څخه عبارت ده او دوړاندې ویل شویو عوایدو تخمینات په یوه ټاکلې دوره کې چې معمولا یو کال ده تر تیبېږي او تصویبېږي، بودجه د یوه پلان د خاصیت درلودونکې ده نو ځکه خو باید داقتصادیت او معقولیت له پرنسیپ سره سم ترتیب شي. دا چې بودجه د حکومت د ملي انکشاف یوه ستراتیژي وه نو ځکه خو ستراتیژیات اولیتونه او میکانیزمونه د حکومت پراختیایي لید ځای ته د رسېدلو په خاطر طرحې جوړوي. د بودیجې د اجرا لارښود چې د بودیجې په سند کې د لارښود په بڼه د بودیجې د تطبیق د طرز لپاره د بودجوي واحدونو لپاره د قانون په صفت سره مکلف یاد شوي دي.

ټول اجرایوي مسائل او د بودیجې تطبیق په هماغه مالي کال کې دا واضح کوي او ثبتوي چې ټول بودجوي واحدونه یې په رعایت کولو مکلف دي د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژۍ په ۲۰۰۵ کال په دې لټه کې شو تر څو د افغانستان د انکشاف او پراختیا لپاره یوه ستراتیژي په لاس کې ونیسي ترڅو د مرسته کوونکو بهرنۍ مرستې د هغه مطابق تر سره او ولېږولی شي. د حکومت بودجه تر ډېره حده پورې د بهرنیو مرستو په مټ ولاړه وي. اګر که دا ټمه کېږي چې بهرنۍ مرستې په دې مینځ کې ادامه ولري خو د دې امکان شته چې د دې اوږد مهاله مرستو میزان کمښت مومي.

د افغانستان په پنځلس کلنیو موخو کې دا بیان شوي دي: د افغانستان د ملي انکشاف د مؤقتې ستراتیژۍ له لومړیتوبونو سره سم د بودیجې موخه د ستراتیژۍ لومړیتوبونو تطبیق دی. د مالیې منځنۍ مودې د تدابیرو طرزونه د ۱۳۸۶ ـــ ۱۳۸۸ کلونو لپاره د افغانستان د ملي انکشاف د مؤقتې ستراتیژۍ د سکتورونو پر بنسټ په لاندې جدول کې وړاندې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له ۱۳۸۶ ـــ۱۳۸۸ کلونو لپاره د منځنۍ مالي مودې تدابير د افغانستان د ملي انکشاف د مؤقتې ستراتيژۍ د سکتورونو پرښسټ**

| سکتور | د منځنۍ مودې تدابير |
|---|---|
| امنيت | د نظامي جوړښت زياتېدنه په منځني موده کې د هېواد د امنيتي اړتياوو د تأمين په موخه او د افغانستان د پياوړتيا په موخه امنيتي سکتور ډېرې له حکومتي سرچينو او د ملي بوديجې له لارې تموېلېږي. |
| حکومت داري او دقانون حاکميت | د ديموکراتيک، حقوقي، قضايي، زده کړييزو، د ظرفيت لوړېدو اړونده چارو او د اداري اصلاحاتو د تطبق د لا پياوړتيا په خاطر د مؤقتي امتيازاتو، د رتبو، معاشاتو او د مهارتونو د انکشاف د برنامو په شمول. |
| زيربناوې او طبيعي سرچينې | ملي زېربناوې، سړکونه، ګاونډيو هېوادونو ته د ارتباطي او حلقوي سړکونو په شمول، د ټولو عمده هواى ميدانونو يا ډګرونو احيا او بيا رغاونه د کابل، هرات او مزار شريف هموايي ډګرونو په شمول، د برق د انرژۍ د توليد زياتونه او هم د اوبواماده کول، اطرافي ښاري مناطقو ته د څښاک د اوبو برابرونه، دکوچونيو او لويو بندونو تقويت، اوبه رسونه او اوبوونه، د کانونو پلټنه د اولويت در لودونکي سکتور په مشابه. |
| معارف | په ښونځيو کې نجونو او هلکانو شاګردانو د تعداد زياتېدنه، د معارف د کيفيت لوړول، هر کال د ۱۰۰۰۰ نويو ښوونکو استخدامول، د ښونځيو د اړتياوو د تأمين په موخه، د پوهنتونونو اعمار او د لوړو زده کړو په څانګه کې د لايقو او متخصصو ښوونکو استخدام. |
| صحت | د روغتيايي لومړنيو خدماتو د بستې غوړول او په اطرافي او ښاري منطقو کې د روغتونونو د بنسټيزو خدمتونو بسته، او په ټولو ولاياتو کې د بشپړو واکسيناسيون پوښښ، د ميندو او وړو ماشومانو د مرګ کمښت، د وقايې پياوړتيا او د ساري بيماريو تداوي. |
| زراعت او د کليو پرمختيا | عمده تدابير د باغدارۍ ښه والي، د څارويو روزنه او د غذا تأمين دی. د زېربناوو توسعه بازار موندنه، د روستايي مناطقو لپاره ترويج او مالي منابع، د خلکو په مشارکت سره د زراعتي محصولاتو د تجارت انکشاف او کليواله زېربنايي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ټولنيز مصؤنيت | له حوادثو سره د امادګۍ د مؤثر سيستم انکشاف له زيانمنو ښځو سره د استخدام فرصتونه اومرسته، معلولين، او د دفاع وزارت د مخکينيو قطعاتو د سرتېريو ملکي کېدل، وطن ته د بېرته را ستنېدونکو مهاجرينو لپاره د سر پنا جوړول او مرسته کول او هم له داخلي ځای په ځای شويو سره مرسته کول. |
| اداره، اقتصاد او د خصوصي سکتور انکشاف | دداخلي عوايدو زياتونه د تدابيرو د اجرا له لارې لکه د مالياتي سيستم ساده جوړونه، د ګمرکاتو اصلاح او د سړکونو حق العبور، د مالي چارو د ادارې تقويه، د پراختيايي او عادي بودجو د ادغام په وسيله، او د مالي مودې د چارچوب ښه ادغام، او د خصوصي سکتور د انکشاف د بودېجې تر تيب د تدابيرو له لارې لکه په غوره پانګونو باندې د نظارت کوونکو چارچوب له مخې، د دولتي تصديو خصوصي جوړونه، د مالي خدمتونو ښه والی، د صادراتو پياوړ تيا او تقويت. |

**د۱۳۸۸ کال د بوديجې د ترتيب مهال وېش**

| جوزا/سرطان ۱۳۸۷ | د۱۳۸۷ کال د بوديجې د تقويم نهايي جوړونه |
|---|---|
| جواز/سرطان | — د۱۳۸۸ ــ ۱۳۹۰ کلونو لپاره د سکتور او وزارت د لمړيتوبونو ټاکنه او بحث. د بوديجې لومړی د متحد المال لېږدونه. |
| سرطان / اسد | د بوديجې د منځنۍ مودې د چارچوب ترتيب او د سکتورونو لپاره تقريبي سقفونه/ وزارتونه، د حکومت د لمړيتوبونو د ښودلو په موخه او سکتوري ستراتيژي. |
| سنبله | د بوديجې د منځنی مودې د چارچوب ترتيب، او د سکتورونو او وزارتونود بوديجې تخصيصات. |
| **دميزان مياشتې نيمايي** | **د کال په منځ کې د بوديجې د لګښتونو د بر رسۍ انجام.** |
| عقرب | — د منظور شويو سقفونو اړونده وزارتونو د متحد المال بوديجې لېږل د ماليې وزارت د مرستندويې کابينې په واسطه اړونده وزارتونو ته د ارزول شويو پروژو د ترتيب په هکله او د هغوی قيمت ګذاري. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| د قوس اوسط | — د وزارتونو په واسطه د بوديجې د پشنهاداتو وړاندې کول.<br>— د بوديجې د استماعيه جلساتو پيل. |
| جدی | — د بوديجې نهايي کول او دتصويب په موخه کابينې ته د هغې وړاندې کول. |
| د دلوې له ۱۲ ــ ۱۵ پورې | ملي شورا ته د بوديجې تسليمول د تصويب په موخه. |
| د حوت پای | د ملي شورا په واسطه د بوديجې تصويب. |

د بوديجې د ترتيب په پروسه کې د اصلاحاتو ادامه

- د دوو بودجوي بيت المالونو لېږدونه د افغانستان د ملي پراختيا په ستراتيژۍ کې د بوديجې او د دولت د لومړيتوبونو تر منځ د همغږۍ د ايجاد په موخه.
- د وزارتونو او اداراتو د بوديجې د ترتيب لپاره د ډېر وخت په نظر کې نيول.
- اوليت ورکونه او د منځني مودې (درى کاله) د بوديجې د سقفونو ټاکنه.
- د پراختيايي پروژو لپاره معياري فارمټ.
- د بوديجې جوړونه د برنامې په اساس او د بوديجې په جوړونه کې د ولايتونو د برخو زياتونه.
- د وزارتونو او سکتورونو د ستراتيژي قيمت ګذاري.
- د جنسيت پر بنسټ د بوديجې توزيع.
- په ولايتونو کې د مالي سرچينو عادلانه تقسيم.

د بوديجې په برابرولو کې منل شوي اصول

بودجه يوه مالي دسپلين ته اړتيا لري:

•په ورکونو کې د زياتولو صورت په عوايدو کې د زياتېدنې لاره هم پيشبيني شوېده.

- تنقيص او سپما.
- په مالياتو کې زياتونه او ګمرکي محصول؟
- پور اخيستنه؟

د پيسو چاپ؟

- د ورکړنو کنترول د مالي استطاعت د تأمين په موخه په اوږد مهاله موده کې حتمي ده:
- هر قطعي لګښت وروستى لګښت تر شا لري.
- د اجناسو پيرودنه ځارنې او ساتنې ته اړتيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د بودیجې پړاوونه**

د بودیجې پړاوونه چې د بودیجې د دوران په نامه هم یادېږي څلور مرحلې لري:

۱- د بودیجې ترتیب.

۲- د بودیجې تصویب.

۳- د بودیجې اجرا.

۴- د بودیجې کنترول.

**۱- د بودیجې ترتیب:** د بودیجې ترتیب تهیه او تنظیم په هر هېواد کې د ځینو قوانینو او مقرراتو تابع وي چې د حکومت د جوړښت تړل د هغې ټولنې د اجرا دستګاوې په دوره کې د نظر وړ دي.

د هېوادونو په قوانینو کې د بودیجې وړاندې کول یا د ابلاغ دنده د بېلابېلو مقاماتو په ذمه باندې وي په ځینو هېوادونو کې د جمهور ریس اوپه ځینو کې د لومړي وزیر یا په خینو نورو هېوادونو کې چې افغانستان هم له همدو هېوادونو څخه دی د مالیې وزارت له دندو څخه یوه دنده ده.

د بودیجې طرح او تر تیب چې اساس یې د اجرایه قووې له لوري ترسره کیږي د ټیټو مقاماتو له لوري د لوړو مقاماتو لور ته تر سره کیږي.

څنګه چې بودجه د عمده وسیلې په حیث د دولت د پالیسیو او د لومړیتوبونو د تطبیق په خاطر پېژندل شوې. د برنامې په اساس د بودیجې ادغام د مدیریت په چارچوب کې د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتیژۍ پر پایلو باندې مبتني له مهمو اړتیاوو څخه یوه اړتیا ده چې ټول وزارتونه او مستقل ریاستونه د برنامې پر بنسټ د بودیجې په جوړونه کې شامل دي .

دمالیې او اقتصاد د وزارت له مهال وېش سره سم او د متحد المال بودیجې د کمېټې له تایید څخه وروسته د بودیجې لومړۍ شماره بودجوي واحدونو ته لېږي د متحد المال په لومړۍ شماره کې له بودجوي واحدونو څخه غوښتنه کیږي ترڅو د پروژو لست، برنامه او د هغې ارتباط د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژۍ له لومړیتوبونو سره له کمې، کیفي پایلو سره او د مودې په مینځ کې مشخص لګښتونه ترتیب کړي.

وروسته بیا دوه ورځنی ورکشاپ د بودجوي واحدونو لپاره د طرز او طریقې د تشریح په موخه د اړونده دوایرو او وزارتونو د بودیجې تر تیب د بین الوزارتي کمیټې له لارې د مالیې او اقتصاد د وزارتونو په اشتراک د افغانستان د ملي ستراتیژۍ د سکتور د پروژو او د برنامو لومړیتوبونه تر بحث لاندې نیول کیږي د بودجوي واحدونو د لارښوونې پر بنسټ باید د هغوی د پروژو او برنامو مسوده چې د افغانستان د ملي پراخاتیایي ستراتیژۍ د لومړیتوبونو انعکاس ورکوونکي وي، د مالیې او اقتصاد د وزارتونو په همکارۍ سره دې ترتیب کړي. د مالیې وزارت د تحویل کوونکو مالی بازنګرۍ د وزارتونو د پیشنهاداتو د وړاندې کولو په موخه دلومړۍ شمارې د متحد

(c) ketabton.com: The Digital Library

المال پر بنسټ او له تمویل کوونکو مراجعو څخه د تعهداتو در خواست په لار اچوي، د اقتصاد او مالیې وزارت او هم د بودجوي واحدونو تر منځ مذاکرات د پراختیایي بودیجې د سقفونو د نهایي جوړولو په موخه ترسره کیږي.
د مالیې او اقتصاد وزارت( د وزارتونو پیشنهاد تحلیل او ارزیابي کوي.)

۱- د پیشنهاد شویو لومړیتوبونو بیا کتنه چې له هغو څخه کوم یو ډېر اهمیت لري.
۲- له تمویل کوونکو سره د جلسې تدویر، د مالي تمویل په اړه او د متحد المال د دویمې شمارې د مالیې وزارت د تمویل کوونکو د بر رسۍ د ګذارش نهایي کول، دټولو بودجوي واحدونو لپاره د بودیجې له سقف، لارښود او له اړینو فورموسره یې لېږي. دغه متحد المال ټاکل شویو لومړیتوبونو لره د بودیجې منځنی چارچوب لره شامل دي.
د بودیجې کمیټه د کال د منځنیو لګښتونو بیا کتنه پیلوي، د منځني کال د لګښت د بیا کتنې ګذارش کابینې او پارلمان ته لېږل کېږي. بودیجوي واحدونه د پروژې جزئیات د وزارتونو او سکتور لپاره د معرفي شویو فورمو څخه په ګټو اخیستو سره د مالیې او اقتصاد وزارتونو په مټ سره جوړه وي. هغه وزاراتو ته چې بودجه د برنامې په اساس تطبیقوي، خپلې برنامې او فعالیتونه د مالیې وزارت له لارښووونو سره سم تر تیبوي. د مالیې او اقتصاد وزارتونه له اړونده وزارتونو سره د بودیجې د ترتیب په زمینه کې د بودیجې د مؤثرو اسنادو د ترتیب پایلې د برنامې په اساس او د سقفونو مطابق همکاري کوي. د مالیې او اقتصاد وزارت د تمویل کوونکو په شمول مالي کلیدي مسایل په نظر کې نیسي، او بودجوي واحدونه هم مجالس له تمویل کوونکو سره ښایي د مالي اړونده مسایل مطرح کړي. د مالیې وزارت د وزارتونو د بودیجې د پیشنهاداتو بر رسي او تحلیل پیلوي، او همدا راز د تحویل کوونکو د مالي ارزونې دویمه دوره ښایي تر اجرا لاندې ونیسي.
د بودیجې د کمېټې د استماعیه مجالسو پیل د قوس له ۱۹ څخه د جدی تر لسمې پورې، د بودیجې د اسنادو نهایي جوړونه او د هغو وړاندې کول کمېټې ته د جدی تر ۲۵ نېټې د دلوې تر ۱۵ پورې پارلمان ته د بودیجې د مسودې لېږل، د حوت په میاشت کې د بودیجې تصویب د پارلمان په واسطه.

**۲- د بودیجې د تصویب مرحله:** وروسته له دې چې د بودیجې د ترتیب په مرحله کې سمه بڼه ځانته غوره کړه. د مالیې وزارت د بودیجې لګښت او د عوایدو توحید پارلمان ته د تصویب او منظورۍ په موخه وړاندې کوي.
اساسي قانون ته په پام سره په ډېرې هېوادونو کې د بودیجې تصویب د هر هېواد د ملي شورا له دندو او اختیاراتو څخه بلل کېږي.
د بودیجې د لایحې له وړاندې کولو وروسته کمیسیون ته د رسېدنې لپاره بودجه پارلمان ته ارجاع

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي. د بودیجې ټول موارد په دې کمیسیون کې تر څېړنې لاندې نیول کېږي.
له تعدیل او د لازمو بدلونو نو له تر سره کولو وروسته د بودیجې لایحه رایې ته اېښودل کېږي.
هر کله چې عواملو ته په کتو سره د بودیجې تصویب د مالي کال له پیل څخه مخکې ترسره شي.
ترڅو چې د تېر کال د نوې بودیجې تصویب تطبیق کېږي.
حکومت د مالي کال د څلورمې ربعې په خلال کې د راتلونکي کال بودجه د روان کال د بودیجې په اجمالي حساب سره ملي شورا ته وړاندې کوي. د مخکیني مالي کال د بودیجې قطعي حساب د راتلونکی کال د شپږو میاشتو د مودې په خلال کې د قانون له احکامو سره سم ملي شورا ته وړاندې کېږي.
ولسي جرګه نشي کولای د بودیجې تصویب له یوې میاشتې څخه زیات او د پور د اخیستلو او یا ورکولو اجازه چې بودیجې لره شامله نه وي له ۱۵ ورځو څخه زیات وځنډوي.
هرکله چې ولسي جرګه په دې موده کې د قرضې ورکونې او یا اخیستنې د پېشنهاد په اړه تصمیم ونه نیسي نو وړاندیز تصویب شوی ګڼل کېږي.
د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون د ۹۸ مادې سره سم د بودیجې د تصویب او د حکومت د پروګرامونو په اړوند ملی شورا د لاندې صلاحیتونو او مسؤلیتونو درلودونکې ده.

۱- د دولت بودجه د حکومت پرمختیایي پروګرام د مشرانو جرګې له لارې د هغوی له مشورتي نظریې سره ولسی جرګې ته وړاندې کېږي.

۲- د ولسي جرګې تصمیم مشرانو جرګې ته له وړاندې کولو څخه پرته د جمهور ریس له توشیح څخه وروسته نافذ ګڼل کېږي.

د بودیجې د تصویب صلاحیت له ننیو اساسي قوانینو سره سم د مقننه قوې اړوندېږي. په هغو هېوادونو کې چې بناً استثنایي حوادثو ته د مقننه قوې دنده په مؤقتي ډول د اجرائیه قوې ریس ته انتقالېږي د مقننه قوې په وکالت سره بودجه تصویبوي.
په انګلستان کې د بودیجې تصویب د نمایندګانو او عوامو د مجلس په صلاحیت پورې اړه لري، په داسې حال کې چې د شمالي امریکا په هېوادونو کې د بودیجې تصویب د سنا مجلس صلاحیت دی، په فرانسه کې یو مختلط یا ترکیبي شکل په دې مانا چې د بودیجې تصویب د نمایندګانو په مجلس پورې اړه لري اما د سنا مجلس د بودیجې په تصویب کې لږ او ډېر صلاحیت لري.
د پارلمان له تاید او تصویب څخه وروسته د پارلمان د ریس په وسیله جمهوري ریاست ته لېږل کېږي او جمهور ریس د بودیجې په اجرا کولو مؤظف دی.

**۳- د بودیجې اجرا:** بودجه له تصویب څخه وروسته د قانوني حیثیت په پیدا کولو سره د اجرا وړ بلل کېږي. جمهور ریس یا مجاریه قوه د بودیجې د اجرا مسؤل دي.
د بودیجې اجرا د مجریه قوې له وظایفو، صلاحیتونو او اختیاراتو څخه بلل کېږي. د بودیجې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون له ابلاغ څخه وروسته د بودیجې د اجرا مقدمات د مجریې قوې او نورو اجرایي ارګانونو په وسیله فراهم کېږي. دغه اقدامات عبارت دي له:

۱- د بودیجې ابلاغ
۲- د طرحو او فعالیتونو مبادله او موافقت نامه
۳- د اعتبار تخصیص

**بودجوي واحدونه:** بودجه په څلورو ځانګو یعنې په څلورو ربعو تقسیمېږي. د بودیجې اجرا د دوو مهمو او اساسي وظیفو در لودونکې ده، په دې مانا چې له یوه لوري د مقننه قوې د تصمیم په تر سره کولو مکلف دي او له بل لوري د اقتصادیت او سپما دغه پرنسیپ د بودیجې په اجرا کې رعایت شي. د بودیجې د قانون په اساس بودجه ربع وار اجرا کېږي چې د ربع واره تخصیصاتو درخواست د ۲۷ ب فورمې پرمخ صورت نیسي چې په هغه کې اصل منظوري له درج شویو تعدیلاتو سره او په هغه کې د لګښتونو راپور هم وړاندې کېږي.
چې د مالیې وزارت د بودیجې ریاست د متذکره معلوماتو له مخې تجویزېږي چې څومره تخصیص د یادې ربعې لپاره د لګښتونو د ابوابو پر بنسټ اجرا کېږي.

**د بودجې په اجرا کې ځینې مهم ټکي**
- ټول قراردادونه، پرتوکولونه او پیرودنې باید د منظور شوې بودیجې په حدودو کې تنظیم شي.
- قراردادونه نه باید په کاري حجمونو سره بلکه په ټاکلې او ثابت قیمت سره باید وتړل شي.
- په ساختماني قراردادونو کې هېڅ ډول اضافه کاري د مالیې وزارت له کتبي موافقې پرته (اختیاري فنډ) او د پروژې له تمویل کوونکي پرته د اجرا وړ نه دي.
- د بودیجې او تادیاتو د اجرا په اړه یوازې د وزارتونو او ارګانونو مسؤلین کولای شي د مالیې له وزارت سره په تماس کې وي. هېڅ یو قراردادي نه شي کولای په دې اړه د مالیې وزارت ته مراجعه وکړي، ټول اسناد د آرشیف له لارې باید ولېږل شي.
- ټول بودجوي درخواستونه باید له دریو کاري ورځو څخه په لږه موده کې اجرا او یا ښه ځواب ورکړل شي.

**۴-د بودیجې کنترول:** معمولاً د بودیجې پر اجرا باندې نظارت په ډېرې هېوادونو کې له مختلفو طریقو څخه صورت مومي چې د بودیجې په اجرا کې مهم او اساسي عامل کنترول او نظارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د بودیجې د کنټرول مزایاوې**

۱- د بودیجې د مؤثریت د لوړولو لامل ګرځي.

۲- په ټاکلې زمانه کې له مالي وسایلو څخه کار اخیستل کیږي.

۳- له اصراف او فضول خرڅې څخه مخنیوی کېږي.

۴- د دولت موخې په ټاکلې زمانه کې د نظر وړ په کمیت او کیفیت سره تر لاسه کېږي.

**کنټرول په دریو شکلونو سره صورت مومي:**

۱- اداري کنټرول

۲- پارلماني کنټرول

۳- قضایي کنټرول

**۱- اداري کنټرول:** اداري کنټرول یو مقدماتي کنټرول دی او د بودیجې د اجرا په مهال تر سره کیږي چې دغه ډول کنټرول د چارو د مسؤلینو تصمیمونه د لګښتونو په اجرا کې څاري. کنټرول کوونکي سازمانونه د ننه په سازمانونو کې معمولاً د مالیې وزارت اړوند وي، چې د دولت ټول لګښتونه مخکې تر ورکولو کنټرولوي. د دې کره او عمده دلیل چې کنټرول کوونکي ولې د مالیې وزارت اړوند وي دا دی چې، کنټرول په هغه خپله سمه او غوره بڼه تر سره کیدلی شي، یانې د همدغه وزارت د چارواکو په اطاعت باندې مکلف نه دی، په داسې حال کې که چېرې کنټرول کوونکی په خپله د همدغه اړونده وزارت کارمند وي نو د اداري سلسله مراتبو په پام کې نیولو سره باید د آمر یا مافوق شخص اطاعت ارومرو وکړي، چې په دې صورت کې د سم او غوره کنټرول امکان ډېر کم دی.همدغه ډول اداري کنټرول هم د افغانستان په ارګانونو او وزارتونو کې شتون لري په دې مانا چې ټول کنټرول کوونکي شعبات په وزارتونو کې د مالیې وزارت طابع وي.

**اداري کنټرول له لاندې څانګو څخه نظارت کوي:**

۱- د همیانۍ کنټرول او حسابي کنټرول او حسابي کنټرول چې په دې صورت کې د عددي حساب صورت تر کنټرول لاندې نیول کېږي؛ ترڅو په اعدادو کې له غلطیو او له ځانه جوړونوڅخه مخنیوی وشي.

۲- قانوني کنټرول چې په دې صورت کې له اداري کړنلارې سره سم د هېواد دساتیر او قوانین تر کنټرول لاندې نیول کېږي؛ ترڅو د هغه په واسطه وپوهېدلای شي چې آیا حوالې له قانوني مقرراتو سره سمې ترتیب شوې او اجرا شوې دي کنه؟

۳- د حوالو کنټرول په دې صورت کې لیدل کېږي؛ ترڅو حواله شوی مبلغ د هماغه فصل مادې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اعتبار او یا تخصیص اړوندېږي او کنه سربېره پر هغه د حوالو د کنټرول په صورت کې لیدل کېږي چې آیا حواله شوی مبلغ له هغو حدودو څخه چې په بودجه کې ټاکل شویدي تېری ونه کړي.

۴- د لګښتونو د ورکړې کنټرول د اداري کنټرول هغه وروستنۍ مرحله د بودیجې په اجرا کې تشکیلوي.

**۲- پارلماني کنټرول:** څرنګه چې مقننه قوه د بودیجې په تصویب سره د عوایدو حدود او د بودیجې لګښت ټاکي نو بناءً د مالي کال په پای کې د اجرائیه قوې پایلې د عوایدو او لګښت د پلان د عملي کولو له نظره سنجوي. د وخت او زمان له نظره د پارلماني او اداري کنټرول ترمنځ توپیر دادی چې اداري کنټرول د بودیجې او کنټرول د جریان پر مهال د بودجوي کال په پای کې صورت مومي. د بودیجې کنټرول د پارلمان په واسطه معمولاً په دوو طریقو سره صورت مومي.

**۱-** مقننه قوه د استهزا او پوښتنې له لارې اجرایه قوه تر پوښتنې او څېړنې لاندې راولي .

**۲-** د کمیسیونونو له لارې د بودیجې اجرا عملاً کنټرولوي او څاري. د کمیسیونونو له طریقه په دقیقه او مؤثره توګه سره تر سره کېږي، ځکه چې دغه ډول کنټرول د دایمي او منظم شکل درلودونکی دی.

د ننني نقطې له نظره په ډېری هېوادونو کې د مقننه قوې کنټرول د بودیجې د اجرا په اړه د بودیجې د کنټرول کوونکو کمیسیونونو د تشکیل له لارې معمول او دود دی.

**۳- قضایي کنټرول:** نن سبا په ډېری هېوادونو کې د محاسباتي دېوانونو په واسطه صورت نیسي. قضایي کنټرول هغه وخت تر سره کیږي چې په بودجه کې بې تفاوتي، ناغیري، اصراف او یا هم د دولتي پروژو په خنډ کې اچول زیاتوالی ومومي او په پایله کې دولتي اهداف په هغه خپل معین وخت او زمان او د مورد نظر په کمیت او کیفیت سره ترلاسه نشي. د بودیجې کنټرول د بودیجې د مؤثریت لوړولو لپاره خورا مهمه وسیله جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د بودیجې د ترتیب له مرحلې څخه وروسته د بودیجې تصویب دی، د بودیجې د تصویب استثنایي حوادث په مؤقت ډول سره د اجرایه قوې ریس ته انتقالېږي. وروسته له دې چې بودجه تصویب شي قانوني حیثیت پیدا کوي او د دولت یو قانوني سند دی چې د اجرا وړ بلل کېږي، بودجوي واحدونه یې په اجرا کولو باندې مکلف دي.

بودجوي واحدونه خپله بودجه په څلورو ربعو تقسیموي، چې هره ربع درې میاشتې وي، چې هرې ربعې لپاره تخصیص د ګذارش پر بنسټ ورته ورکول کېږي. بودجوي واحدونه باید د اقتصادیت او سپما پرنسیپونه د بودیجې په اجرا کولو کې رعایت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بودیجې د اجرا دوره



(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تخصیصي اجرا تعامل**




د بودیجې په اجرا کې مهم او اساسي عامل کنټرول او نظارت دی، چې په درې شکله تر سره کیږي. (۱)اداري کنټرول(۲)پارلماني کنټرول (۳) قضایي کنټرول.

**د دویم ځپرکي خلاصه**

د بودیجې اصطلاح په فرانسه کې په لومړی ځل په ۱۸۱۴ کال کې په رسمي بڼه د دولت د عوایدو او لګښتونو په اړه تر استفادې لاندې ونیول شوه او په ۱۹ پیړۍ کې په مډرن شکل منځته راغله.

**بودجه په مکمل ډول داسې تعریف شوېده:**

بودجه عبارت له یوې منظمې طرحې څخه د پلان شویو لګښتونو د یو بل په وړاندې قرار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکول او د پېش بيني شويو عوايدو تخمينات په يوه معينه دوره کې چې معمولاً يو کال ده ترتيب او تصويبېږي.

په افغانستان کې د احمد شاه بابا په زمانه کې د افغانستان مالي اداره تأسيس شوه، چې د اعلمي همايون د دېوان په نامه يادېده.

په ۲۰۰۵ کال د افغانستان د ملي انکشاف ستراتيژي او دافغانستان پنځلس کلنې موخې بيان شويدي، چې د مؤقتې ستراتيژۍ د سکتورونو پر بنسټ د افغانستان ملي انکشاف (امنيت) حکومت داري او د قانون حاکميت، ټولنيز مصؤنيت، اقتصادي اداره اود خصوصي سکتور انکشاف دی.

**بودجه څلور پړاوونه را نغاړي:**

۱- د بوديجې ترتيب.

۲- د بوديجې تصويب.

۳- د بوديجې اجرا.

۴- د بوديجې کنترول.

۵- د بوديجې لومړۍ مرحله د بوديجې ترتيب و، چې د ګراف په بڼه د خلاصې په شکل بيان شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دويم څپرکي پوښتنې**

۱- د کلاسيکيانو د له نظره او هم دفرنس نيويارک له نظره بودجه تعريف کړئ؟

۲- د بوديجې د کميټې وظيفه څرګنده او واضحه کړئ؟

۳- د بوديجې پړاوونه په کومو نومونو يادېږي او د څو پړاوونو درلودونکې ده نومونه يې واخلئ؟

۴- د افغانستان د (۲۰۰۵) کال د ملي انکشاف ستراتيژي بيان کړئ؟

۵- د بوديجې د قانون پر بنسټ بودجه څه ډول اجرا کېږي او تخصيصات د څه شي له مخې صورت مومي؟

۶- د بوديجې کنټرول په څو ډولونو تر سره کيږي او د بوديجې د کنټرول مزاياوې بيان کړئ؟

۷- د بوديجې په اجرا کې څو وظيفې مهمې او اساسي دي، د هرې يوې دندې په اړه خپل مالومات وليکئ؟

۸- د منځنۍ مالي مودې تدابير د ۱۳۸۶ـ ۱۳۸۸ کلونو لپاره د افغانستان د ملي انکشاف د مؤقتې ستراتيژۍ د سکتورونو پر بنسټ يې نومونه واخلئ؟

